# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۲۲مه | د ۲۰۲۰ د اگسټ ۱۲مه | ۵۸۰یمه گڼه


## د بین الافغاني مذاکراتو پر لور؛

### افغان حکومت: مذاکرات به ژر پیل شي، اجنډا او ځای مشخص شوي دي



۳

له ډیورنډ دې خوا د پاکستان تحرکات او د حکومت سکوت

۲ مخ

فساد اداری؛ وضعیت بحرانی اقتصاد کشور را بحرانی تر می سازد

۲ مخ

د مدیرانو هغه تېروتنې چې کارکوونکي خپه کوي

۳ مخ

## کتاب

۴ مخ

## د جگړې هنر





د کتاب لیکوال وايي، دلته راټولې شوې دیارلس برخې په ژوره توگه د یوه داسې معنوي طبیعت ښکارندوینه کوي، چې د هغه له لارې خپل ورځنی ژوند پرته له کومې شخړې او مبارزې مخ ته ولاړ شي، که دا مبارزه له نورو سره وي او یا هم له خپل ځان سره.

## کرنې ریاست: په کندوز کې د ۱۲ میلیونو افغانیو په لگښت د اوبو لگولو کانالونه گټې اخیستنې ته سپارل شوي



د کندز د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې په دغه ولایت کې د اوبو لگولو د دوو کانالونو د رغولو چارې بشپړې او گټې اخیستنې ته سپارل شوي دي. د کندز د کرنې ریاست وايي، چې دغه کانالونه، چې ۱۳ کیلو متره اوږدوالی لري، امام صاحب او دشت ارچي ولسوالیو کې په پاخه او اساسي ډول رغول شوي دي، چې د اوبو د تنظیم او وېش په برخه کې یې د یادو سیمو د بزگرانو ستونزې په اساسي توگه حل کړې دي. د دغو کانالونو د رغولو ټولیز لگښت ۱۲ میلیونه افغانۍ دی، چې د اسیایي پرختیایي بانک له خوا تمویل شوي دي. یاد کانالونه په ټولیزه توگه زر هکتاره ځمکه خړوبوي او همدارنگه له دغو کانالونو څخه اووه زره او ۶۰۰ کسان په مستقیمه توگه او زرگونه نور کسان په په غیرمستقیم ډول گټه پورته کوي.

## د هندوانو او سېکانو یوه ۲۰۰ کسیزه ډله به تر راتلونکو څلورو ورځو پورې له افغانستانه ووځي

د افغانستان د سېکانو او هندوانو دویمه جوپه هم افغانستان پرېږدي او هند ته ستنېږي. د دغې لړکۍ یوه ۲۰۰ کسیزه ډله به تر راتلونکو څلورو ورځو پورې له افغانستان څخه ووځي.

د دغې لړکۍ ځینې کورنۍ وايي، امنیتي گواښونه او د دوی د ملکیتونو غصبېدل د دې لامل شوي چې له خپل اصلي هېواد افغانستان نه ووځي.

د دوی له ډلې سردار گربچهن سېنگ غزنیوال ۵۰ کاله مخکې په غزني ولایت کې زېږېدلی دی. دی په افغانستان کې د دغې دیني لړکۍ څخه دی چې غواړي څو ورځې وروسته له افغانستان سره خدای په اماني وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې څلور میاشتې مخکې په کابل ښار کې د دوی پر عبادت ځای په برید کې د ده د کورنۍ ۹ غړي ووژل شول. غزنیوال په افغانستان کې کور نه‌لري او له مېرمنې او درې اولادونو سره په خپل یوه عبادت‌ځای کې اوسېږي.

دی وايي، له یوې ورځې نه بلې ته د ده او د نورو سېکانو او هندوانو پر وړاندې امنیتي گواښونه ډېرېږي. گربچهن سېنگ یوازینی سېک نه‌دی چې په پام کې ده له افغانستان څخه ووځي.

په ولسي جرگه کې د افغان سېکانو استازی نربندر سېنگ وايي، په پام کې ده چې ۱۸۰ سېکان تر راتلونکو څلورو ورځو پورې هندوستان ته ولاړ شي.

امنیتي سرچینې:

## په پکتیکا کې د پاکستان د توغندیزو بریدونو له کبله ۲۳ کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې



۵ مخ

## هیئت گفتگوکننده حکومت برای آغاز گفتگوهای میان افغانان فردا به قطر می‌رود



شماری از اعضای هیئت گفتگوکننده جمهوری اسلامی افغانستان با طالبان می‌گویند که این هیئت برای آغاز گفتگوهای میان افغانان فردا به قطر می‌رود.

عبدالحفیظ منصور عضو هیئت گفتگوکننده جمهوری اسلامی افغانستان می گوید که وارد یک مرحله مهم شده اند و نیاز است تا تمامی طرف‌ها برای رسیدن به صلح انعطاف پذیری نشان دهند. عبدالحفیظ منصوری، عضو هیئت گفتگوکننده، گفت: «اگر طالبان بر از این که در آینده افغانستان یک نقش مثبتی را ایفا کنند، در اداره افغانستان سهیم باشند، بالاخره در انتخابات بعدی این ها کاندیدا باشند، در پارلمان افغانستان بیایند، در نهاد های ولایتی بیایند، آنان باید به آتش بسی و قطع جنگ فکر کنند.»

فوزیه کوفی، عضو هیات گفتگو کننده، گفت: «مردم افغانستان باید اطمینان داشته باشند که تمام موارد و مسایلی که به حیث نگرانی های شان مطرح می شود، به حیث خواست های معقول و مشروع شان مطرح می شود، هیات مذاکره متوجه از او است.»

در حالی که انتظار می‌رود تا چند روز دیگر گفتگوهای میان افغانان آغاز شوند؛ شهروندان کشور انتظار دارند تا هرگونه جزییات این گفتگوها ها با مردم درمیان گذاشته شوند.


با این همه نگرانی سرمنشی ناتو در گفتگوهای جداگانه تلیفونی با رئیس جمهور غنی و عبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحه ملی گفته است که طرف‌های درگیر باید از فرصت تاریخی برای صلح استفاده کنند.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

دریـځ

## له ډیورنډ دې خوا د پاکستان تحرکات او د حکومت سکوت

په کونړ کې سیمه ییز خلک وایي چې پاکستاني ځواکونو پر افغان خاوره له توغندویي بریدونو وروسته اوس په پینځو ولسوالیو کې له کرښې دې خوا د افغانستان خاوره نوره هم لاندې کړې او اغزن سیم یې پکې تېر کړی دی. سیمه ییز خلک وایي چې د پاکستاني توغندویي بریدونو له امله خلکو خپلې سیمې پرې ایښې وې، چې اوس یې سیمې پاکستان لاندې کړي او د ډېری کسانو کورونه او ځمکې له اغزن سیمې هاخوا پاتې شوې دي. د دې تر څنګ د پکتیکا په برمل ولسوالۍ کې هم د پاکستان له خوا توغندویي بریدونه روان دي او ورسره پاکستاني ځواکونه له کرښې پینځه کیلومتره دې خوا راغلي او اغزن سیم یې تېر کړی دی. تر دې وړاندې ویل شوي وو چې پاکستاني ځواکونه په ځینو سیمو کې د کونړ تر سینده راغلي او اغزن تارونه یې لګولي دي.

حکومت د پاکستان د دغو تحرکاتو په اړه چوپ دی چې نه یې د مخنیوي هڅه کوي او نه یې هم په دې اړه کوم ښکاره اعتراض کړی دی. له همدې امله خلک پر حکومت نیوکې کوي او آن حکومتي مشران له پاکستان سره پر پټو معاملو تورنوي.

د پاکستان دغه بریدونه، تېری او د افغان خاورې لاندې کول او بیا پرې د حکومت سکوت د جدي اندېښنې وړ دي. پاکستان له یوه اړخه په ظلم او زور د ډیورنډ کرښې په وسیله افغان خاوره لاندې کړې او اوس پر دې کرښه هم بسنه نه کوي، بلکې په ډېرو سیمو کې یې له کرښې دې خوا ډېرې سیمې لاندې کړې، اغزن سیم یې پرې لګولی او تاسیسات یې جوړ کړي دي. د حکومت چوپتیا که په هر دلیل وي، د زغم وړ نه ده. که پټه ناوړه معامله شوې وي، نو بیا خو په هېڅ ډول د توجیه وړ نه ده، خو که حکومت فکر کوي چې د غږ په پورته کولو او د پاکستان د دغو تحرکاتو د مخنیوي له لارې به دوی له ستونزو سره مخ شي او یا به نور زیان ووینې، بیا هم د توجیه وړ نه ده. له بده مرغه په وروستیو کلونو کې حکومت پاکستان ته یو اړخیز امتیازات ورکوي چې په بدل کې یې افغانستان هېڅ هم نه تر لاسه کوي. د دغو امتیازاتو له امله نه په افغانستان کې امن راغلی او نه هم پاکستان د افغانستان پر وړاندې له دښمنۍ ډک چلند پرې ایښی دی. له همدې امله حکومت د خلکو د غوښتنې او ارادې خلاف د پاکستان پر وړاندې مرګونی سکوت کړی دی چې زیان یې د افغانستان خلکو ته رسېږي.

اوس پکار ده چې د پاکستان د دغو تحرکاتو پر وړاندې اوسنۍ چوپتیا ماته شي. نه یوازې دا چې حکومت باید په دې اړه ښکاره اعتراض وکړي، بلکې په عملي ډول باید خپله خاوره بېرته خپله کړي او د پاکستان اغزن سیم، تاسیسات او پوستې ور ټولې کړي. له دې پرته پر حکومت هر ډول شک کېدلی شي او ولس به یې پر وړاندې ودرېږي. که حکومت ژر په دې اړه خپل دریځ روښانه نه کړي او ګام وانه خلي، ولس به خپله هم د پاکستان د دغه تېري پر وړاندې او د حکومت پر وړاندې ګام واخلي.

# فساد اداری؛ وضعیت بحرانی اقتصاد کشور را بحرانی تر می سازد

نویسنده: مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

به تاریخ ۲ سرطان سال جاری برق و کمره های امنیتی بانک مرکزی به مدت چهار ساعت به گونه یی بی پیشینه غیر فعال گردیده است. بانک مرکزی افغانستان بعد از گذشت بیش از ده روز به گزارش ها در مورد خاموش شدن کمره های امنیتی این بانک، واکنش نشان داده و گفته است، تعداد محدودی از کمره های امنیتی برای چند ساعتی با مشکل فنی رو به رو شده بود. همچنان بانک مرکزی به تاریخ ٦ اسد سال جاری در خبرنامه ای گفته است که خاموش شدن کمره های امنیتی برای مدت چهار ساعت، صحت ندارد. در این خبر نامه آمده است، که شمار محدودی از کمره‌های امنیتی این بانک برای ساعاتی به دلیل بروز مشکل فنی، از فعالیت باز مانده است. بانک مرکزی تاکید کرده است که پس از ارزیابی‌ها مشخص شد، در این مدت به دارایی‌ها و داشته‌های بانک آسیب نرسیده است.

با وجود این که بانک مرکزی در اعلامیه خود بیان نمود که بر اساس بررسی های مفتشین، هیچ نوع آسیبی به دارایی ها و داشته های بانک مرکزی در جریان غیر فعال بودن کمره های امنیتی وارد نشده است، اما این گزارش با واکنش شمار زیادی از کاربران فضای مجازی همراه شده است و آن ها خاموش شدن کمره های امنیتی را زمینه سازی برای فساد در بانک مرکزی عنوان می نمایند.

فساد پدیده ایست که در تمام کشورهای جهان به میزان و اشکال متفاوت وجود دارد، اما، افغانستان کشوری است که از جوانب مختلف با مشکلات بیش از حد و متفاوت مواجه است، از جمله آنها؛ مشکل فساد اداری به صورت گسترده در ادارات موجود می باشد.

وعده هایی که جامهء عمل نپوشید

رئیس جمهور؛ محمد اشرف غنی در منشور انتخاباتی خویش، در کل۱۹ وعده را در مورد مبارزه با فساد اداری سپرده بود و در این مورد روی دو نکته(حسابدهی و شفافیت)تاکید کرده بود. در این منشور، ثبت نشدن دارایی‌ها به گونهٔ شرعی و قانونی و نبود یک سیستم موثر حقوقی، عوامل اساسی فساد اداری در کشور عنوان شده بود و به همین دلیل برای مبارزه با فساد اداری گام‌های زیر را در راهکار خویش بیان کرده بود:

اصلاحات در وزارت عدلیه، لوی سارنوالی، محاکم و پولیس؛

ثبت اراضی، جایدادها و دارایی‌ها به گونهٔ شرعی و قانونی؛

بررسی قراردادهای دولتی؛

جلوگیری از قاچاق و صادرات غیرقانونی؛

کنترول بندرها و شاهراه‌ها از طریق ارگان‌های مربوطه؛

برداشتن گام‌ها برضد خرید و فروش بست‌های دولتی.

پس از تشکیل حکومت وحدت ملی، رئیس جمهور غنی راهکار مبارزه با فساد اداری خویش را یک بار دیگر در کنفرانس لندن(۲۰۱۴ م)با ارائه مقاله اصلاحات خویش بیان کرد که در آن حدود ۲۰ وعده را در مورد مبارزه با فساد اداری سپرده بود.

با وجود اینکه در سال ۲۰۱۷ م اعلام شد که مردم افغانستان در سال ۲۰۱٦ م، بیش از بودجه دولت شان، رشوه پرداخت کرده‌اند و این رقم، نسبت به سال ۲۰۱۴ م، یک میلیارد دلار افزایش داشته، اما رتبه این کشور در فهرست سازمان شفافیت بین‌المللی، ۵ پله ارتقا کرده است. افغانستان در تازه ترین گزارش سالانه سازمان شفافیت بین‌المللی از نظر فساد در بخش دولتی، در میان ۱۷٦ کشور با کسب ۱۵ نمره جایگاه ۱٦۹ را از آن خود ساخته است(در سال ۲۰۱۵ م، این کشور نمره ۱۱ را بدست آورد و در رتبه سوم کشورهای فاسد قرار گرفت.) در سال ۲۰۱۸ م افغانستان با ۱٦ امتیاز از صد، در درجه ۱۷۲ همردیف سودان و گینه می باشد، و در سال اخیر سازمان شفافیت بین المللی در مورد فساد ۱۸۰ کشور جهان منتشر کرده است، در این گزارش آمده است که افغانستان در سال ۲۰۱۷ م از ۱۰۰ امتیاز ۱۵ و در سال ۲۰۱۸ م این رقم به ۱٦ امتیاز افزایش یافت، اما در سال ۲۰۱۹ م پیشرفتی صورت نگرفته و افغانستان در همان جایگاه ۱٦ امتیازی قرار دارد. به گفته این سازمان، بر اساس شاخص های جهانی فساد، افغانستان همچنان در میان ۱۰ فاسدترین کشورهای جهان قرار دارد.

ادارات مبارزه با فساد، کاری را به پیش نبرده اند

در حال حاضر ادارات متعدد مبارزه با فساد وجود دارد که می توان از آنها چنین نام برد: اداره عالی مبارزه با فساد اداری، شورای عالی مبارزه با فساد، قوهء قضایه، تفتیش داخلی تمام نهادهای دولتی، اداره عالی تفتیش و برخی از نهادهای دیگر... این نهادها در حالی فعالیت دارند که دامنه فساد در کشور روز به روز افزایش می یابد. با وجود فعالیت این ادارات، وضعیت کنونی فساد در کشور سبب شده است که اعتماد مردم نسبت به اداره های دولتی کاهش یابد و بی تفاوتی، تنبلی و بی کفایتی را در جامعه ایجاد نماید و ارزش اخلاقی جامعه متزلزل گردد. همان طوری که فساد مانع سرمایه گذاری بوده و مانند سرطان هرجا ریشه دوانیده، در حدی که دیگر مقابله با آن امری مستحیل به نظر می رسد.

سریراک پلی پات رئیس آسیایی سازمان بین المللی شفافیت چند سال قبل گفته بود: «نظام قضایی افغانستان و ادارات مبارزه با فساد اداری نیاز به اصلاحات گسترده دارد، و هم اکنون برای مبارزه با فساد کارایی خود را از دست داده و تا هنوز هیچ مفسدی به دادگاه های این کشور کشانده نشده است.» اما جسلن مسن، معاون پروگرام انکشافی سازمان ملل متحد (UNDP)در افغانستان عدم موجودیت یک طرح واضح و مشخص و نبود یک راهکار جامع در دولت افغانستان را مشکل اساسی افزایش فساد اداری می داند.

رئیس جمهور غنی زمانی به قدرت رسید که بر بنیاد گزارش های سازمان های بین‌المللی، افغانستان در صدر کشورهای فاسد جهان قرار داشت. از جانب دیگر، حکومت رئیس جمهور غنی برای جلب کمک‌های مالی جامعهٔ بین‌المللی نیز، نیازمند مبارزهٔ قاطعانه و ریشه کن کردن فساد اداری در افغانستان بود. ازین رو، هرچند در دورهٔ چهار سالهٔ حکومت وحدت ملی هر چند گام‌هایی در راه مبارزه با فساد اداری برداشته شد، ولی بنابر دلائل مختلف کاستی‌ها و مشکلاتی نیز در این عرصه وجود داشت و به همین دلیل، مبارزهٔ حکومت با فساد اداری در کل موفق نبود و اکنون نیز افغانستان یکی از فاسدترین کشورهای جهان محسوب می شود. در کنار فعالیت موثر که حکومت داشته است به صورت خلاصه می توان بیان نمود که: کاستی‌ها در ساختارهای نظام اداری افغانستان بیشتر وجود دارد که خود فسادزا بوده، به ندرت در سازمان های اداری می توان بدون پرداخت رشوه، کاری را پیش برد. در بسیاری از ادارات، سازمان ها، وزارت خانه ها، شاروالی ها، نهاد های امنیتی، ترافیک، اعطای پُست ها در سازمان های مختلف حتی در دانشگاه ها تنها رشوه و روابط به جای ضوابط، در انجام امور اداری کارساز است. به صورت علنی از شهروندان رشوه مطالبه می کنند. و همچنان برای بست های اداری؛ بیشتر اوقات متقاضیان به اساس شایستگی نه، بلکه بر اساس پشتوانه های سیاسی و روابط تعین می گردند. احراز برخی مشاغل و یا عضویت در هیئت مدیره‌های گوناگون با عناوین مختلف همچون مشاورکه با هدف ایجاد رابطه و سوء استفاده از موقعیت وظیفه‌ای صورت می‌گیرد، امری متداول است. مبارزه با فساد قبل از هر چیز مستلزم شناسایی عمیق فساد وهمین طور شناسایی افراد فاسد و سوء استفاده کننده است، بنابرسوء استفاده از موقف شغلی؛ حقوق اجتماعی، اقتصادی و سیاسی شهروندان نقض و یا حق مسلم فرد یا گروهی به آسانی پایمال یا به ناحق، به دیگری واگذار می شود که خود نقض قوانین در افغانستان است.

نتیجه

با وصف مشکلاتی که در امر مبارزه با فساد اداری در دور اول حکومت آقای محمد اشرف غنی وجود داشت؛ روی هم رفته در بعضی عرصه ها فساد اداری کم شد یا حد اقل گراف آن پایین آمد. اما در دورهء دوم حکومت وی که چند ماهی از آن سپری شده؛ نه از تعهد مبارزه با فساد حرف زده می شود و نه هم اقدامات عملی ای درین زمینه دیده می شود. برخلاف؛ راپورهایی در رابطه به موارد جدید فساد، وقتاً فوقتاً از طریق رسانه ها به نشر می رسد. شاید یکی از علل ازدیاد فساد، مصروفیت آقای محمد اشرف غنی و تیم همکارش تلاش بخاطر دوام حکومت فعلی و مدیریت قضیهء صلح به نحو دلخواه شان باشد. شاید جار و جنجال ها با آقای عبدالله، عبدالله و سپیدار نشینان نیز شاید یکی از علل این بی توجهی را تشکیل دهد.

سران حکومت باید بدانند که فساد روز افزون؛ در کنار فشارهای اقتصادی ناشی از وبای کرونا و همچنان فشار ناشی از جنگ و کشتار؛ مردم افغانستان را در اوج بدبختی قرار داده است. ارگ اگر نمی تواند و یا نمی خواهد کار مؤثری بخاطر قطع جنگ و تحقق صلح در کشور انجام دهد؛ حد اقل باید دست عمال خود را از فساد اداری و دستبرد به دارایی های عامه کوتاه ساخته، وضعیت اقتصادی کشور را که بخاطر کرونا بحرانی شده است؛ بحرانی تر نسازد.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر نږدې اووه نیم لکو کسانو ته رسېدلی



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس لاهم په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی. د دغو شمېرو پر اساس ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۲۰ میلیونو اوښتي، ۷۴۱ زره ۷۰۴ تنه یې مړه کړي او له ۱۳ میلیونو زیات کسان تړې بېرته رغېدلي دي.

د تازه شمېرو له مخې، امریکا بیا هم د کرونا د زیاتو مثبتو پېښو او د دغه ویروس د قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې تر دې دمه د کرونا ویروس پنځه میلیونه او ۲٦۸ زره او ۹۰۷ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۱٦٦ زره او ۸۱۳ امریکایان ترې مړه شوي دي.

له امریکا وروسته برازیل د دری میلیونه او ٦۸ زره او ۱۳۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دویم، هند د دوه میلیونه ۳۲۵ زره او ۲٦ مثبتو پېښو له اړخه درېیم، روسیه د ۸۹۷ زره او ۵۹۹ مثبتو پېښو له کبله څلورم او جنوبي افریقا د ۵٦۳ زره او ۵۹۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د یاد ویروس ډېرې مثبتې پېښې ثبت شوې دي.

دغه راز مکسیکو، پیرو، کولمبیا، چیلي او هسپانیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه چې د کرونا ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په ورته وخت کې د روسیې ولسمشر وایي، د کرونا ویروس ضد هغه واکسین چې په روسیه کې جوړ شوی، د کارونې لپاره تیار شوی دی. ولادیمیر پوتین چې تېره ورځ د حکومت یوې غونډې ته خبرې کولې، د دې اعلان پر مهال وویل، یوې لور ته یې له وخته دغه واکسین لګول شوی دی.

ولسمشر پوتین وویل، په لومړنیو ازموینو کې ثابته شوې چې دغه واکسین «اغېزناک» دی او د کرونا ویروس پر وړاندې انسانانو ته خوندیتوب ورکوي. دا په داسې حال کې ده چې تر دې دمه په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس ضد تر ۱۰۰ زیات واکسینونه جوړ شوي، خو لږ تر لږه څلور واکسینونه پر انسانانو د ازموینو په درېیمه مرحله کې دي.

تحقیق: برکت الله آریوبي

# افغانستان او د نړیوالو مشترکو سیندیزو حوزو اړوند د ملگرو ملتونو د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون؛ فرصتونه او اندېښنې

**لومړۍ برخه:**

**لنډیز:**
د افغانستان اوبه په ۵ سیندیزو حوزو ویشل شوي دي چې ۴ هغه یې پوله تیریدونکې دي. دا هېواد د تیرو ناخوالو په سبب نه دی توانیدلی چې له خپلو اوبو څخه د هېواد په اقتصادي ټیکاو او سوکالۍ کې گټه واخلي. په سیمه کې د دوه اړخیز او یا څو اړخیز حقوقي چوکاټ نشتون، چې پر اساس یې گډ سیندیز هېوادونه د پوله تیریدونکو اوبو پر سر حاکم حقوقي واحد چوکاټ تعریف او توصیف کړي، شتون نه لري. همدا وضعیت هم په سیمه کې د اوبو منابعو وېش پر وړاندې یو خنډ بلل کېدای شي. مونږ هڅه کړې دا وارزو چې د نړیوالو مشترکو سیندیزو حوزو ۱۹۹۷ کال کنوانسیون غړیتوب به د افغانستان لپاره څه پایلې ولري؟ یا په بل عبارت، که چیرې افغانستان د دې کنوانسیون غړیتوب اخلي، فرصتونه او ننگونې به یې د هېواد لپاره څه وي؟ په دې څېړنه کې د کارپوهانو نظریات، تجربې، د نړیوالو مقرراتو تحلیل، په سیمه او نړۍ کې د نورو هېوادونو وضعیت څېړل شوی او د افغانستان له شرایطو سره په مقایسوي بڼه تحلیل شوی دی. د دې کنوانسیون ځینې مهم مفادات لکه د «منصفانه او معقولانه گټې اخیستنې» او «جدي ضرر نه درلودل» د عرفي نړیوالو حقوقو برخه گرځیدلي او افغانستان د نړیوالې ټولنې د یو غړي په حیث په هر صورت کې مکلف دی، چې د دې عرفي اصولو درناوی وکړي، په نړیواله ټولنه کې د ډېرو تعهداتو منل یو هېواد دیموکراتیک او قانونمند معرفي کوي، نوموړی کنوانسیون د حاکم تصور خلاف د بره پروت او ښکته پرتو هېوادونو پلوي نه کوي؛ د افغانستان الحاق به په سیمه کې د پوله تیریدونکو اوبو حقوقي چوکاټ سرلاری گرځي او نور هېوادونه به هم تشویق شي چې دا کار وکړي. له بله اړخه په دې اړه ځینې اندېښنې هم شته، لکه د دې کنوانسیون غړیتوب اخیستل به په اوس وخت کې د افغانستان لپاره کومه چاره ساده نه کړي او بالعکس وضعیت به لا پیچلی کړي. همدا راز ځینې بره پراته هېوادونه لکه چین او ترکیه د دې کنوانسیون مخالفت کوي او په زغرده یې ویلي دي چې دا کنوانسیون د ښکته پرتو هېوادونو پلوي کوي او له بله لوري دا چې افغانستان په تیرو لسیزو کې د خپلو اوبو له منابعو څخه گټه نه ده پورته کړې، که چیري اوس دا کار کوي، ښکته پراته گاونډ هېوادونه به د کنوانسیون موادو په استناد افغانستان ملامتوي. دا تحقیق دا په ډاگه کوي چې د دې کنوانسیون گټې د اضرارو په نسبت د پام وړ دي او په دې اړه د کارپوهانو ترمنځ د بحث راپورته کېدو زمینه مساعده شوې. اړینه ده چې په دې برخه کې لا ډېر تحقیقات او څېړنې وشي، نتایج یې د مسؤلو چارواکو او پالیسي جوړوونکو ته په لاس ورکړل شي، څو د هغوی په رڼا کې تصمیم نیوونکي د ملي منافعو په پام کې نیولو سره په دې اړه لازم اقدامات تر سره کړي.

بنسټیز مفاهیم: پوله تیریدونکې اوبه، له کښتۍ چلولو پرته د مقاصدو لپاره د ملگرو ملتونو کنوانسیون، ښکته پراته هېوادونه، بره پراته هېوادونه، معقولانه او منصفانه گټه اخیستنه، جدي ضرر نه رسولو اصل او نړیوال حقوق.

مقدمه: د ملگرو ملتونو عمومي اسامبلۍ له لوري د نړیوالو مشترکو سیندیزو حوزو څخه د گټې اخیستنې په موخه د کښتۍ چلونې نه وړ مقاصدو لپاره نړیوال کنوانسیون د ۱۹۹۷ کال د مې په ۲۱مه تصویب شو. دا کنوانسیون له پوله تیریدونکو اوبو څخه د گټې اخیستنې، پراختیا، مدیریت او د سطحې او ځمکې لاندې اوبو مدیریت په موخه رامنځته شوی دی. د ملگرو ملتونو د ارقامو له مخې، د دې کنوانسیون غړي په ۲۰۱۷ کال کې ۲۶ ته رسیدل او ۱۶ هېوادونو امضا کړې دی چې د تصویب چارې یې تر نوموړې نیټې پورې نه دي بشپړې شوې.

نوموړی کنوانسیون اصول، اساسي طرزالعملونه او د پوله تیریدونکو اوبو په اړه د پالیسي کلي اډانه لري او جزیات یې دولتونه ته پرېښې چې د دوی ځانگړنو او سیندیزو حوزو مشخصاتو ته په کتو یې د جزیاتو په اړه په خپل منځ کې توافق ته ورسیږي. ځینې هغه هېوادونه چې د دې کنوانسیون غړیتوب یې لا تر اوسه نه دی تر لاسه کړی، عبارت دي له: بریټانیا، فرانسه، ډنمارک، سویډن، مجارستان او په اروپا کې عراق، اردن، لبنان، سوریه او قطر او په منځنۍ ختیځ کې ازبکستان او په منځنۍ آسیا کې افغانستان د دې کنوانسیون الحاق او یا عدم الحاق په اړه کوم خاص تصمیم نه دی نیولی.

افغانستان د بره پروت هېواد په حیث، په داسې حال کې چې د تیرو ناخوالو او خونړیو جگړو په سبب نه دی توانیدلی د اوبو له منابعو څخه په سمه توگه گټه واخلي، اوس وخت متمایل دی او شدیده اړتیا لري چې له خپلو پوله تیریدونکو اوبو څخه د بریښنا تولید، اوبه لگونې، صنعتي او ښاري گټه اخیستنې او د نورو مقاصدو لپاره ترې استفاده وکړي. همدا راز په دې اړه ځینې اندېښنې هم شته چې له دې منابعو څخه د افغانستان له سهم څخه گټه اخیستنه به د گاونډیو هېوادونو پر تاریخي/پخواني گټه اخیستنه د پام وړ اغیز ولري. په اوسني وخت کې د سیمه ییز او دوه اړخیز حقوقي چوکاټ نشتون هم د حقابې پر تنظیم وضعیت لا وخیم کړی. (دران، ۱۳۹۶)

د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون مرعی الاجرا کېدو څخه وروسته افغانان میل لري څو پوه شي، چې د دې معاهدې احکام په ځانگړې توگه دوه مهم اصول یې د «معقولانه او منصفانه گټه اخیستنې اصل» او د « پام وړ ضرر نه رسول» چې په ترتیب سره په ۵مه او ۷مه کې راغلي دي؛ همدا راز د همکارۍ مکلفیت په اړه (۸مه ماده) او د اقداماتو په لاره اچونې څخه د خبرداري مکلفیت (۱۲مه ماده) څنگه به له اوبو څخه د دې هېواد گټه اخیستنه تر اغیز لاندې راولي. په بل عبارت، پوښتنه دا ده چې آیا د افغانستان لپاره به دا کنوانسیون دا فرصت په لاس ورکړي چې له خپلو اوبیزو گاونډیو سره یوې حقوقي اډانې ته ورسیږي او یا که برعکس اوسنی عملي رژیم به بې ثباته کړي؟

د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون تاریخي سیر:
په ۱۹۵۹ کال کې د بولیویا هېواد ملگرو ملتونو عمومي اسامبلۍ ته د نړیوالو سیندونو قانوني ستونزو د حل په موخه وړاندیز وکړ، چې دا مسئله دې وارزوي. د راپور تر اوریدلو وروسته په ۱۹۶۳ کال کې د سازمان عمومي منشي عمومي مجمع ته توصیه وکړه، چې د نړیوالو حقوقو کمېسیون(ILC) ) دې له کښتۍ چلولو پرته له نړیوالو اوبو د استفادې حقوق وارزوي. په ۱۹۷۰ کال کې د ملگرو ملتونو عمومي اسامبلۍ له لوري د «نړیوالو اوبو په اړه د بین المللي حقوقو تدریجي تدوین او پراختیا» په نوم قطعنامه تصویب شوه. د نوموړې قطعنامې پر اساس، د نړیوالو حقوقو کمېسیون د نړیوالو اوبو موضوع پر سر کار شروع کړ. د دې کمېسیون فعالیتونه په ۲۰ کلونو کې د ۵ ځانگړو راپورچیانو له لوري هدایت شول او ورسره په څنگ کې دوو غیردولتي حقوقي نهادونو د نړیوالو حقوقو انجمن(ILA) او نړیوالو حقوقو موسسهIIL) ) په دې ارزونو کې ځانگړی نقش درلود. له ۲۰ کاله کار وروسته دې د نړیوالو حقوقو کمېسیون خپله طرحه د «د کب چلونې نه وړ نړیوالو سیندونو د گټې اخیستنې حقوقو» په نوم د دوو اصولو له مخې «معقول او منصفانه گټه اخیستنه» او «د جدي ضرر نه رسونه » ته په پام، عمومي اسامبلۍ ته وړاندې کړه. دا طرحه په ۱۹۹۴ کال کې عمومي اسامبلۍ ته وړاندې او تر اصلاحاتو راوستو وروسته په ۱۹۹۷ کال کې د «کښتۍ چلونې نه وړ نړیوالو اوبو گټه اخیستنې کنوانسیون» په نوم د ملگرو ملتونو غړیو هېوادونو امضا ته وړاندې شو او په پای کې په ۲۰۱۴ کال کې د نصاب غړیو هېوادونو تر امضا وروسته لازم الاجرا شو.

**دوام لري...**

# د بین الافغاني مذاکراتو پر لور؛

## افغان حکومت: مذاکرات به ژر پیل شي، اجنډا او ځای مشخص شوي دي



افغان حکومت وایي، له طالبانو سره د بین الافغاني خبرو ځای او اجنډا ټاکل شوي دي او ژر به د بین الافغاني خبرو د پیل رسمي نېټه هم اعلان کړي. د ملي مصالحې عالي شورا هیله مندي ښیي چې طالبان هم ژر تر ژره له افغان حکومت سره د خبرو لپاره تیاری ونیسي او په دې توگه دوی وتوانېږي چې د لومړي پړاو مذاکراتو معلومات له رسنیو سره شریک کړي. په ورته وخت کې ویل کېږي چې اوربند او د تېرو ۱۹ کلونو لاس ته راوړنې د بحث مهم موضوعات دي. د سیمې هېوادونه هم تمه ښیي چې ژر تر ژره بین الافغاني خبرې پیل شي.

وروسته له دې چې افغان حکومت د طالب بندیانو د خوشي کولو فرمان صادر کړ، تازه افغان چارواکي وایي چې بین الافغاني خبرې به ډېرې ژر په دوحه کې پیل شي. د دوی په خبره، د خبرو ځای دوحه دی او اجنډا یې هم معلومه ده چې اوربند او د تېرو ۱۹ کلونو د لاس ته راوړنو ساتل دي. د ملي مصالحې عالي شورا ویاند فریدون خوځون وایي، افغان حکومت له خپل لوري ټول موراد عملي کړي او ژر تر ژره باید بین الافغاني خبرې پیل شي. د ده په خبره، د بین الافغاني خبرو ځای او اجنډا معلومه ده، خو تمه ده چې په رسمي توگه یې د پیل نېټه هم اعلان شي. دده په وینا: ((د مذاکراتو ځای او اجنډا ټاکل شوي دي. هیله ده چې په رسمي توگه ددغه مذاکراتو د پیل نېټه هم اعلان کړو. هیله دا ده چې په لومړني فرصت کې افغان پلاوی له طالبانو سره کېني او بین الافغاني خبرې پیل کړي)).

د سولې په چارو کې ددولت وزارت بیا وایي چې د سولې اړوند ټول مسایل به افغان حکومت او د ملي مصالحې عالي شورا له مذاکراتي پلاوي سره شریکوي. د سولې په چارو کې د دولت وزارت همدا راز وایي چې د تېرو کلونو لاس ته راوړنې ساتل او اوربند رامنځ ته کول، د دغو مذاکراتو لومړی پړاو دی او پر دې مواردو بحث کېږي.

تر دې وړاندې بیا یو شمېر سرچینو او رسنیو راپور ورکړی و چې د روانې اگسټ میاشتې په ۱۶ مه به بین الافغاني خبرې پیل شي. ولسمشر غني هم ویلي وو چې د طالب بندیانو تر خوشي کولو وروسته به ژر تر ژره بین الافغاني خبرې پیلېږي. د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین هم ویلي وو چې په راتلونکو شپږو ورځو کې به له افغان حکومت سره مخامخ مذاکرات پیلوي.

بلخوا د افغانستان د ولسي جرگې غړي هم وایي چې طالبان او افغان حکومت دې ژر تر ژره بین الافغاني خبرې پیل کړي. د دوی په خبره، دغه خبرې باید مسوولانه او د قوانینو په چوکاټ کې وي او باید د تېرو لاس ته راوړنو د نابودۍ او زیانمنېدو سبب نه شي. د ولسي جرگې غړی عبدالخالق وایي: ((ټول افغانان سوله غواړي، تر څنگ یې ارزښتونه هم غواړي. دوی نه غواړي چې د سولې په نامه ارزښتونه له منځه لاړ شي. بنسټونه خراب شي، ښوونځي او تاسیسات ویجاړ شي او بیا څو کاله ناست وو چې دا هر څه له سره جوړ کړو)).


د دې تر څنگ د سیمې هېوادونه هم تمه لري چې بین الافغاني مذاکرات ژر پیل شي. چین وایي، د افغانستان په مسئله کې ښکېل اړخونه باید د سولې په تړاو پر خپلو ژمنو عمل وکړي او افغانستان ته دې دایمي ثبات راولي. د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت وایي چې له افغان سولې بشپړ ملاتړ کوي او تر څنگ یې د اړتیا په صورت کې همکاریو ته هم تیار دي. ایران هم د بین الافغاني خبرو په برخه کې د همکارۍ ټېر وهلی دی. د افغانستان لپاره د ایران ځانگړي استازي ویلي چې که افغان لوری وغواړي، ایران تیار دی چې د مذاکراتو د یوه پړاو کوربه توب وکړي او په خبره یې، د سولې له پروسې هر ډول ملاتړ ته ادامه ورکوي.

## د کتاب خبري

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

- لیکوال: رابرټ کیوساکي
- ژباړن: علي‌الله متوکل

**دریمه برخه**
**ستاسو راتلونکی اوس پیلېږي!**
**شلم څپرکی**




**۲۰. له ژونده گټه واخلئ!**

څه شی مو شتمنوي؟ ډېر خلک وايي:«پیسې» د دوی ځواب غلط دی. پیسې تاسو نشي شتمنولای، ځکه پیسې هر وخت ستاسو له لاسه وتلای شي. د ملکیت درلودل مو هم په رښتیا نه شتنموي، ځکه ملکیت هر وخت خپل ارزښت له لاسه ورکولای شي.
نو څه شی دې شتمنولای شي؟ پوهه. پوهه کولای شي تاسو شتمن کړي.

**زما طلایي درس**

د یوه ځوان په توگه مخکې تر دې چې په ملکیت او املاکو کې پانگونه وکړم، په سرو زرو مې پانگونه وکړه. ځان ته مې ویل:((سره زر غوره پانگونه ده. ځنگه کېدای شي تېروتنه وکړم؟)) په (۱۹۷۲م) کې مې د سرو زرو پېرل پیل کړل. په هغه وخت کې د سرو زرو یو اونس تقریباً په ۸۵ ډالره و. زه پنځه ویشت کلن وم. کله چې دوه دېرش کلنۍ ته ورسېدم، د سرو زرو یو اونس په ۸۰۰ ډالره و او زما پیسې تقریباً لس چنده زیاتې شوې.
په هیجاني حالت کې وم او د پیسو تمې مې پر احتیاط غلبه وکړه. داسې اوازې وې چې د زرو د یوه اونس بیه به ۲۵۰۰ ډالرو ته پورته شي. د پیسو وړو سره زر اخیستل. ان هغو خلکو هم زر اخیستل چې په ژوند یې نه وو اخیستي. ما کولی شوای خپل سره زر ټول خرڅ کړم؛ خو په دې هیله چې نور به هم گران شي، نو خرڅ مې نه کړل. یو کال وروسته سره زر تر ۵۰۰ ډالرو هم ارزانه شول او ما خپل زر خرڅ کړل. د سرو زرو و دغو ارزانه کېدو ته متوجه وم چې په (۱۹۹٦م) کې د سرو زرو د یوه اونس قیمت ۲۷۵ ډالره ته را ټیټ شو.
ملکیت، زر، شراکت، سخت کار کول او پیسې دې نه شتمنوي، بلکې د ملکیت، زرو، شراکت، سخت کار کولو او پیسو په اړه پوهه درلودل دې شتمنوي. اقتصادي پوهه دې د شتمنېدو سبب گرځي.
په زرو کې مې زیاته شتمني پیدا نه کړه؛ خو یو اړین درس مې ترې زده کړ. کله چې مې په «ارزښتناکه شتمنی» کې د پیسو گټل ولیدل، نو پوه شوم چې لیدل کېدونکې او لمسېدونکې دارایي کله هم ارزښت نه لري. یانې اقتصادي پوهه چې لیدل کېدونکې او لمسېدونکې نه ده، غوره ده. دا اقتصادي پوهه ده چې خلک شتمن او نېستمن کوي.
ملکیت، زر، شراکت، سخت کار کول او پیسې دې نه شتمنوي، بلکې د ملکیت، زرو، شراکت، سخت کار کولو او پیسو په اړه پوهه درلودل دې شتمنوي. اقتصادي پوهه دې د شتمنېدو سبب گرځي.
اقتصادي پوهه له پوهنتوني او علمي پوهې سره یا بیخي اړیکه نه لري، یا ډېره کمه اړیکه لري. ښایي په پوهنتون او علمي اړخ کې نابغه یئ؛ خو په اقتصادي مسایلو کې په هېڅ نه پوهېږئ.

**یو: د زیاتو پیسو گټلو پوهه**

ځومره چې ډېرې پیسې گټئ، هومره مو اقتصادي پوهه زیاته ده. ځوک چې په کال کې یو میلیون ډالره گټي، اقتصادي پوهه یې تر هغه چا ډېره ده چې په کال کې ۳۰۰۰ ډالره گټي.

**دوه: د پیسو ساتلو پوهه**

ټوله نړۍ تاسو ته په کمین کې ده چې پیسې مو لوټ کړي. ستاسو د پیسو تر ټولو لوی لوټمار حکومت دی. په قانوني ډول خورا ډېرې پیسې درنه وړي. دوه داسې خلک چې هر یو یې په کال کې دوه میلیونه ډالره گټي، په نظر کې ونیسه. یو شل سلنه مالیه ور کوي او بل پنځه دېرش سلنه. په دې دواړو کې د لومړي کس مالي پوهه خورا زیاته ده.

**درې: له پیسو څخه د گټې اخیستنې پوهه**

ډېر خلک په گټلو پیسو کې سپما نشي کولای. دا ځکه چې دوی د شتمنو په څېر نه، بلکې د نېستمنو په څېر سپما یا د پیسو بودجه جوړوي. د پیسو مصرفول هم اقتصادي پوهې ته اړتیا لري.
دوه کسان په نظر کې ونیسئ. لومړی په کال کې ۱۲۰۰۰۰ ډالره گټي او دویم ۶۰۰۰۰ ډالره. کوم یو زیاته اقتصادي پوهه لري؟ لومړی کس؟ تلوار مه کوئ. ښایي ستاسو ځواب لومړی کس وي. لومړی کس په کال کې ۱۲۰۰۰۰ ډالره گټه کوي او د یوه کال مصرف یې ښېرته ۱۲۰۰۰۰ ډالره دی. دویم کس په کال کې ۶۰۰۰۰ ډالره گټي. خپل کلنی لگښت ښه پلانوي. له پیسو سمه گټه اخلي او په ۵۰۰۰۰ ډالرو ټول کال ښه ارام ژوند کوي. په پاتې پیسو پانگونه کوي. اوس ووایئ د کال په پای کې به څوک ډېرې پیسې ولري؟ ښکاره خبره ده چې لومړي کس خپله ټوله گټه مصرف کړه او دویم کس سپما وکړه.
که د پیسو د مدیریت او مصرفولو مهارتونه مو کمزوري وي، نو که د ټولې نړۍ پیسې درکړل شي، بیا به هم درباندې لږې وي. که مو پیسې په خورا هوښیارۍ ولگوئ او د تجارت او پانگونې په اړه معلومات ولرئ، نو د لویې شتمنۍ خاوندان به شئ او د مالي ازادۍ خوا ته به حرکت وکړئ.
د ښه ژوند کولو وړتیا او ورسره پانگونه کول ـ که څه هم لږ وي ـ زیاتې اقتصادي پوهې ته اړتیا لري.

**دوام لري...**

# د جگړې هنر

اگسوس کتابپلورنځی

سنچس مور وايي: «نړۍ درې ځلې له منځه تللې ده، د ساري ناروغیو پر مهال، د شخړو د اوج ته رسېدو له امله او درېیم هم د ژبنیو اړیکو د نیمگړتیاوو له امله.»
د «جگړې هنر» د وسله والو شخړو پر ځای د قانع کولو د وړتیا عملي لارې چارې په گوته کوي، چې په رهبرۍ، سازمان، له سرچینو څخه په گټه اخیستنه، احتمالي پلانونو، اغېزمنو پرېکړو کولو او پر پوهاوي ټینگار کوي. دا ټول د جوړوونکې یا گډې مرستې لپاره که په پوځي چارو کې وي او یا هم په ملکي چارو کې وي، له هرڅه اړین گڼل کېږي او په بېلابېلو محیطي شرایطو کې د ستراتیژیکو بنسټونو کارول د سون تزو له انده هغه څه دي، چې توماس هاین یې د دې کتاب په راتلونکو دیارلسو برخو کې بیانوي.
سون تزو وايي، دا کتاب د اوسنیو متقابلو شخړو لپاره یو ښه کاریال گڼل کېږي، ځکه کوم ادبیات او فلسفه چې د چین هیواد له دود او فرهنگ سره سم په پراخه توگه یاد شوي، د خلکو تر منځ د اندونو او بنسټونو د شریکولو یوه اسانه کړنلاره گڼل کېږي.
نوموړی کتاب په بدو حالاتو او جگړه ییزو شرایطو کې د جگړه ییزې جغرافیې د بېلگې په توگه کارول کېږي، چې د احتمالي پلان جوړونې، د پرېکړو کولو اغېزمنتوب، له هر ډول حالاتو سره د زغم وړ حالت او د تېروتنو را کمول په متناسب ډول څرگندوي. یو له ډېرو او بنسټیزو اساساتو څخه دا دی چې په دواړو ملکي او پوځي برخو کې د بېړنیو پلانونو د جوړولو پر مهال که په رواني او روحاني ډول هم وي، باید د هوساینې پر مهال خطر له یاده ونه باسو او په نورمال حالت کې بېړنی حالت په یاد ولرو. دا د معاصر تخنیک له هغو ځانگړتیاوو څخه ده چې په روایتي چینایي فلسفه کې کارول شوې.
د کتاب لیکوال وايي، دلته راټولې شوې دیارلس برخې په ژوره توگه د یوه داسې معنوي طبیعت ښکارندوینه کوي، چې د هغه له لارې خپل ورځنی ژوند پرته له کومې شخړې او مبارزې مخ ته ولاړ شي، که دا مبارزه له نورو سره وي او یا هم له خپل ځان سره.
سون تزو د دې کتاب په اړه وايي، سلگونه بریاوې لاسته راوړل په سلگونو جنگونو کې د لوړوالي ښکارندویي نه کوي؛ له جگړې پرته د دښمن پوځ تابع کول د غوره والي لوړه مرتبه ده. نو ځکه تر ټولو لویه ستراتیژي د دښمن پر پلانونو برید دی او بیا پر متحدینو یې او بیا پر پوځ یې او تر ټولو ناوړه برید پر ښاریانو دی.
یاد کتاب امریکایي لیکوال سون تزو لیکلی او پښتو ژباړه یې بیا پوهنیار انجنیر محمد هاشم ایاز کړې، چې همدا پښتو بڼه یې په دیارلسو برخو کې په ۲۰۰ مخونو کې راټوله شوې ده.
مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د شخصي احوالو فقه | عبدالوهاب خلاف/مفتی رفیع الله نعماني | ۲۷۰ ؋ |
| ۲ | اخلاق تجارت و حسابداری | میر محمد فاروق حیدری | ۲۰۰ ؋ |
| ۳ | مبانی مهندسی مالی و مدیریت ریسک | رضا راعی، علی سعیدی | ۲۵۰ ؋ |
| ٤ | د جگړې هنر | توماس هاین/ محمد هاشم ایاز | ۱۸۰ ؋ |
| ۵ | دیالکتیک دین او سیاست | برهان محق | ۲۲۰ ؋ |
| ٦ | چشم اندازی بر تمدن اسلامی | عبدالرب حازم هروی | ۱٤۰ ؋ |
| ۷ | څلوېښت حدیثونه | عبدالحق حقاني | ۱۵۰ ؋ |
| ۸ | معاصره لیکوالي | احمد شاه زغم | ۳۵۰ ؋ |
| ۹ | د سمونې لارښود | عبدالسمیع وحدت | ۱۸۰ ؋ |
| ۱۰ | مانا پوهنه | ذبیح الله صاحب ارغند | ۱۵۰ ؋ |
| ۱۱ | تاریخي او مقایسوي ژبپوهنه | میراجان غوربندی | ۲۲۰؋ |
| ۱۲ | سبک پېژندنه | هوسا یوسفزۍ نوري | ۲۳۰ ؋ |
| ۱۳ | غمـــــــي غمـــــــي سیندونه | سید جیلاني جلان | ۱۰۰ ؋ |
| ۱٤ | د اسلام ربښتینی مخ(دوه ټوکه) | شفیع الله تاند | ۲۷۰ ؋ |
| ۱۵ | (مبارز یتیم(ناول | فاروق اتل | ۱۵۰ ؋ |
| ۱٦ | محاسبه دولتی | میر محمد فاروق حیدری | ۱۸۰ ؋ |
| ۱۷ | چگونه درس بخوانیم تا فراموش نکنیم؟ | میر محمد ظاهر حیدری | ۱۵۰ ؋ |
| ۱۸ | څنگه درس ووایو چې هېر یې نکړو؟ | میر محمد ظاهر حیدری/بسم الله امیرزی | ۱۵۰ ؋ |
| ۱۹ | خوشحال پېژندنه | پشتون آقا شېرزاد | ۱۵۰ ؋ |
| ۲۰ | حقوق بشر و امنیت فرهنگی تحت چالش ماهواره | عسکر جلالیان، اعظم ایل زکی | ۱۸۰ ؋ |
| ۲۱ | مدیریت پروژه | محمد جواد عاصمی پور | ۳۵۰ ؋ |
| ۲۲ | د نړیوالو اړیکو تاریخ | مورېس واېس/خالد سنگر | ۲۸۰ ؋ |
| ۲۳ | اداري حقوق | گل رحمن قاضي/محمد نواب خوښ | ۲۰۰ ؋ |
| ۲٤ | په افغانستان کې د عنعنوي جرگو نن او پرون | عبدالجلیل وجدي | ۱۵۰ ؋ |
| ۲۵ | د ادب تیوري | جمشید رشیدي | ۲۲۰؋ |
| ۲٦ | مبادي جغرافیه | محمدعثمان امان | ۲۵۰ ؋ |
| ۲۷ | معاینات لابراتواری معاصر طبی | سیدرضا حسینی | ٤۰۰ ؋ |
| ۲۸ | اموزش گام به گام معادلات تفاضلی معمول و کاربرد انها | عبدالتمیم احدی | ۲۵۰ ؋ |
| ۲۹ | هندسه تحلیلی در فضای سه بعدی | حنیفه حبیب جبارزی | ۲۵۰ ؋ |
| ۳۰ | جغرافیای بشری جهان | میر هارون احمدی شریف الله حبیب یار | ۲۵۰ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۸۸.۴۰ |
| Rp. | ۴۵۴ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۰,۶۰ |
| £ | ۹۷ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانۍ

# د مدیرانو هغه تېروتنې چې کارکوونکي خپه کوي

ژباړه: عطامحمد میاخېل

کار رامنځته کوونکي او مدیران د یوه بریالي کاروبار د لرلو لپاره باید وکولای شي، چې د خپلو کارکوونکو اړتیاوې او لېوالتیاوې وپېژني. کارمندانو ته پاملرنه او له هغوی سره د اغېزناکې اړیکې رامنځته کول، ډېر زیات ارزښت لري.
ډېرې کار ښودونکي په کار کوونکو پورې په ټړلو ځینو برخو لکه، معاش، رخصتۍ او دغه راز د هغوی په لوړتیا کې عادلانه چلند نه کوي، خو باید په دې باندې پوه شي، چې له دې کارښودونکو څخه ځینې یې حتی دومره وخت په پام کې نیسي، چې د خپلو کارکوونکو نوم زده کړي. د یوې څېړنې پایله څرګندوي، کارکوونکي د نا کافي معاش او د بې ارزښتۍ له احساس څخه ډېر په دې باندې خپه کېږي، چې مدیر یې په نوم باندې نه پوهېږي.
د دې لیکنې په دوام به په ځینو هغو دودیزو مسایلو باندې رڼا اچوو، چې کارمندان په کاري چاپېریال کې خپه کوي:
۱ـ د هغوی ستونزو او اختلافاتو ته رسیده‌ګي نه کېږي
ډېری کارمندان وایي، د سازمان یا شرکت د انساني ځواک هغه برخه چې په هغې کې پر کار باندې بوخت دي، د دوی ستونزو او اختلافاتو ته پکې پام نه کېږي. په هغه نظر پوښتنه کې چې په دې برخه کې تر سره شوې ده، یو پر څلورمه برخه کارمندانو ویلي چې د ستونزو په حل کې د دوی د شرکت د انساني ځواک د برخې کړنې ډېرې کمزورې دي.
۲- زیار کارمند باسي، ګټه یې مدیر وړي
معمولاً په سازمانونو او شرکتونو کې کارمند د ډېرو ساعتونو لپاره سخت کار کوي، خو اعتبار او نېک نومي د کارښودونکي لپاره ده، دا مسئله د کارمندانو د خواشینۍ او خپګان سبب ګرځي. د یوې نظر پوښتنې پر بنسټ، اوولس سلنه کارمندانو ویلي چې کار ښودونکي یې د دوی په آیډیاوو سره پرمختګ کوي او په دې وسیله خپل اعتبار زیاتوي، خو د ارزښتمنو آیډیاوو خاوندان هېڅ ګټه نه تر لاسه کوي.
۳- په کار کې هېڅ پرمختګ نهویني
یو له هغو مواردو څخه چې ډېری کارمندان ورسره مخامخ کېږي، د یوه ملاتړیز متمرکز سیسټم نشتون دی، چې له هغوی سره مرسته وکړي، څو کار یې پرمختګ وکړي. په یوه نظر پوښتنه کې په ډاګه شوه چې یوازې یو څلوېښت سلنه کارمندانو په ډاډ سره ویلي چې کارښودونکي یې له دوی سره مرسته کوي، څو په خپله کاري برخه کې پرمختګ وکړي.
۴- کارښودونکی په هغوی کې هېڅ شور او لېوالتیا نه رامنځته کوي
د کار لپاره اړینه انګېزه او لېوالتیا، د کارمندانو د ګټورتوب د ډېرښت لپاره تر ټولو مهم لامل دی؛ خو دا مسئله په ډېری سازمانونو او شرکتونو کې نه رامنځته کېږي. په یوه نظر پوښتنه کې څرګنده شوې، چې یوازې پنځه دېرش سلنه کارمندان ادعا کوي چې کارښودونکي یې د دوی د الهام بښنې سبب ګرځي او دا مسئله د دې سبب ګرځي، چې په ډېرې مینې او لېوالتیا سره پر کار باندې بوخت شي.
۵- له کارمندانو څخه په کافي اندازه قدرداني نه کېږي
په مخ پر ودې کاروبارونو کې د کار ښودونکي او کارمندانو تر منځ اړیکه ډېر زیات ارزښت لري. د مدیرانو او کارمندانو تر منځ د اړیکې نشتون، د شرکت لپاره د بې شمېره ستونزو د رامنځته کېدو سبب ګرځي. د مدیرانو او کارمندانو تر منځ د اړیکې د نشتون یوه له پایلو څخه، چې ډېره زیاته خواشینونکې ده، دا ده چې له کارمند څخه په کافي اندازه قدرداني نه کېږي. د یوې نظر پوښتنې پایلې څرګنده کړې، چې دري شپېته سلنه کارمندان فکر کوي چې د لاسته راوړنو په خاطر یې له دوی څخه په کافي اندازه قدرداني نه کېږي.
٦- د کارمندانو استراحت ته ارزښت نه ورکول کېږي
د څېړنو پایلې څرګندوي چې اتیا سلنه مدیران ادعا کوي، چې د خپلو کارمندانو استراحت ته ارزښت ورکوي او هغوی ته په کافي اندازه رخصتي ورکوي. له هغوی څخه نهه شپېته سلنه یې ویلي دي، چې په خپله کارمندانو ته وړاندیز کوي، چې کله وخت خپل ځان ته استراحت ورکړي او له کار کولو څخه لاس واخلي؛ خو کارمندان په بل نظر دي او وایي چې د مدیرانو په خبرو کې اغراق تر سترګو کېږي. اووه شپېته سلنه کارمندانو ویلي دي، چې د استراحت لپاره د کارښودونکي له خوا یې کوم وړاندیز نه دی تر لاسه کړی او حتی ډېری وخت د هغه له مخالفت سره مخامخ شوي دي.
ډېری کارمندان په رخصتیو کې هم له کاري چاپېریال څخه لرې نه دي او له سفر او مسافرۍ څخه خوند نه اخلي. د تر سره شویو څېړنو پر بنسټ، دوه پر درییمه برخه کارمندانو ویلي چې په رخصتیو کې هم اړ دي، چې کار وکړي.
۷- د کارمندانو دندې نامشخصې دي
که کارمند په دې باندې پوه نه شي چې دقیقاً کوم کار باید تر سره شي، څنګه کولای شي چې خپلې دندې په ښه توګه تر سره کړي او یا هم له عهدې څخه یې ووځي؛ دا به فوق العاده ښې لاسته راوړنې ولري. د یوې نظر پوښتنې پر بنسټ، اووه پنځوس سلنه کارمندان له دې چې مدیر یې دوی ته مشخصې او واضحې دندې او دستورونه نه ورکوي، ګیله من دي.
۸- ډېری مدیران د خپلو کارمندانو لپاره کافي وخت په پام کې نه نیسي
ډېره زیاته مهمه مسئله چې معمولاً کارمندان ترې شکایت لري، دا ده چې کارښودونکي د خپلو کارمندانو لپاره کافي وخت په پام کې نه نیسي. په یوه نظر پوښتنه کې نیم یا پنځوس سلنه کارمندانو ویلي دي، چې مدیران ډله ییزې لیدنې کتنې جوړوي او د هر کارمند لپاره په جلا توګه وخت نه لري.
۹- مدیران په کافي اندازه کارمندانو ته پام نه کوي
ښایي په ډېرې سختۍ سره باور وکړی، خو ځینې کارښودونکي حتی د خپلو کارمندانو په نوم باندې هم نه پوهېږي. د یوې تر سره شوې څېړنې پر بنسټ، شپږ دېرش سلنه کارمندانو ویلي چې مدیران دې موضوع ته هېڅ ارزښت نه ورکوي، چې د دوی په نوم باندې پوه شي او دا مسئله د سازمان د کار کوونکو د خپګان سبب شوې ده.
۱۰- مدیران کمزورې ټکي لري
کمزوري مدیران د دې سبب ګرځي چې کارمندان له شرکت څخه وتښتي. د یوې نظر پوښتنې پایلې څرګندوي، چې پنځه شپېته سلنه هغه افراد چې د کار په لټه کې دي، په خپل پخواني کارځای کې د کمزوري مدیریت په خاطر د نوي کار د پیدا کولو په لټه کې دي.
۱۱- معاشونه عادلانه نه دي
په ۲۰۱۷ میلادي کال کې د تر سره شوې څېړنې پر بنسټ، شاوخوا څلور څلوېښت سلنه مدیران او کارښودونکي په دې باور دي، چې کارمندان یې په عادلانه توګه معاش تر لاسه کوي؛ خو کارمندان د خپل معاش له تر لاسه کولو څخه راضي نه دي. په دې نظر پوښتنه کې یوازې شل سلنه کارمندانو ویلي چې معاش یې عادلانه دی.

## امنیتي سرچینې: په پکتیکا کې د پاکستان د توغندیزو بریدونو له کبله ۲۳ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې

په پکتیکا کې یو شمېر امنیتي سرچینې وایي چې په برمل ولسوالۍ کې د پاکستان د توغندیزو بریدونو له امله تر اوسه اته کسان وژل شوي او ۱۵ نور ټپیان شوي دي.
په برمل ولسوالۍ کې یوې باوري امنیتي سرچینې پژواک خبري اژانس ته وویل چې له تېرې یوې اونۍ راهیسې پاکستاني پوځیانو پر دې ولسوالۍ سلګونه توغندي توغولي دي.
نوموړي ویلي چې د یادو توغندیو لګېدو له امله تر اوسه اته ملکیان وژل شوي او ۱۵ نور ټپیان شوي دي. هغه زیاته کړې چې پاکستاني پوځیان له صفري نقطې د افغانستان لور ته سلګونه مټره مخ ته هم راغلي دي.
دغه راز په برمل کې د وزیر قوم مشر حاجي قدرت الله پژواک ته ویلي چې له تېرې یوې اونۍ راهیسې پاکستان په پرله پسې ډول پر دې ولسوالۍ توغندي توغوي.
هغه زیاته کړې چې تر اوسه دغه توغندي د دې ولسوالۍ په مرغه، منګرېتۍ، سور زغمی، ګورویک، تنګي، خرڅین او په ځینو نورو سیمو لګېدلي دي. د نوموړي د معلوماتو له مخې، پاکستاني پوځیان له پنځه تر لسو کیلومتره پورې د افغانستان په خاوره کې مخ ته راغلي دي.
ده زیاته کړې چې د یادو توپونو د لګېدو له امله تر اوسه د ښځو او ماشومانو په ګډون اته کسان وژل شوي او تر لسو ډېر ټپیان شوي دي.
په ورته وخت کې په پکتیکا کې د ۲۰۳ تندر قول اردو د دویمې لوا قوماندان برید جنرال رحمدل حیدرزي ویلي چې پاکستان په پرله پسې ډول پر برمل ولسوالۍ توغندي توغوي. د نوموړي په خبره، یو توغندی پر یوه جومات لګېدلی او یو بل توغندی پر یوه کور لګېدلی چې له امله یې یو ماشوم ټپي شوی دی. بل لور ته د پاکستان حکومتي چارواکو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي.
په ورته وخت کې د کونړ ولایت یو شمېر اوسېدونکي وایي چې پاکستاني ملېشو پر دغه ولایت تر راکټي بریدونو وروسته د تازه تحرکاتو په ترڅ کې د دغه ولایت په پنځو ولسوالیو کې د اغزن تار غځول پیل کړي. د سیمې د اوسېدونکو په خبره، د اغزن تار له امله د پنځه ولسوالیو ګڼې کورنۍ د کرښې پورې غاړې ته پاتې شوې دي. دوی زیاتوي چې پاکستاني ملېشو د پنځو ولسوالیو په ډېرې کلیدي سیمو کې اغزن تار لګولی دی.

## «واما» اداره: په بین الافغاني مذاکراتو کې دې اوربند ته لومړیتوب ورکړل شي

د واما تحقیق او نتایجو ادارې لخوا تر سره شوې نظر پوښتنه ښيي، چې د افغان سیاسیونو، د نظر خاوندانو او لیکوالانو لخوا وړاندیز شوی، څو په بین الافغاني مذاکراتو کې دې اوربند د بحث لومړی ټکی وي، ځکه دا کار د اعتماد جوړونې لپاره اړین او ضروري ګام دی.
په دغه نظر پوښتنه کې له شنونکو پوښتل شوي، چې د دوی په نظر د بین الافغاني مذاکراتو د اجنډا پنځه مهم ټکي باید کوم وي.
دغه راز د نظر ډېری خاوندانو په مذاکراتو کې د راتلونکي نظام په اړه بحث او خبرې اترې دویم ډېر وړاندیز شوی ټکی ښودلی او په دې اړه یې هره مذاکره او پرېکړه د وطن د لوړو ګټو په پام کې نیولو سره پېشنهاد کړې ده.
همدا راز شنونکو د مذاکراتو په اجنډا کې د موقتي یا انتقالي ادارې منځ ته راتلل، دریيم ډېر پېشنهاد شوی ټکی یاد کړی او دلیل یې دا راوړی، چې طالبان نه غواړي د اوسنۍ ادارې په چوکاټ کې نظام ته را دننه شي.
په مذاکراتو کې د څلورم ډېر پېشنهادي ټکي په توګه د شنونکو ډېر تمرکز د افغانستان د اوسني اساسي قانون پر تعدیل دی. د دوی په نظر، چې طالبان یې په اړه ملاحظات لري او په خبرو اترو کې به تر بحث لاندې ونیول شي. د وروستي او پنځم ټکي په توګه، ډېری نظر ورکوونکي، د طالب جنګیالیو د برخلیک مسئله وړاندیزوي او وایي، چې د طالب جنګیالیو خوشې کول، د هغوی بې وسلې کول او په ټوله کې طالبان د نظام برخه ګرځول، هغه څه دي چې باید بحث پرې وشي.
نظر ور کوونکي پر یادو وړاندیز شویو ټکو سربېره، د مېرمنو او بشري حقونه، د بندیانو خلاصون او سیاسي مشارکت موضوع ګانې، د بین الافغاني مذاکراتو د اجنډا ټکي بولي او خپل دلایل ورته وړاندې کوي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲٦
۰۷۸۲۹۸۹۶۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۲۲مه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۱۲مه | ۵۸۰یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۷ | ۳٦ | ۳۷ | ۳۷ | ۳۲ |
| ۲۲ | ۲۱ | ۲۰ | ۱۹ | ۲۲ | ۲۱ |


شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۸ | لمر ختل ۰۵:۰۹ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۳:۴۳ | ماښام ۰٦:۴۸ | ماخوستن ۰۸:۲۱

## نړۍ



تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر نږدې اووه نیم لکو کسانو ته رسېدلی
۳

### راپورونه: په بېلاروس کې د پولیسو او لاریونوالو ترمنځ په تازه نښتو کې لسګونه کسان ټپیان شوي دي



د راپورونو له مخې، د بېلاروس د ولسمشریزو ټاکنو د رسمي پایلو تر اعلان وروسته د لاریونوالو او پولیسو ترمنځ په نښتو کې یو کس وژل شوی او لسګونه نور ټپیان دي.

د دغه هېواد د کورنیو چارو وزارت ویلي، دا لاریونوال هغه مهال مړ شو چې په لاس کې یې نامعلومه چاودېدونکو توکو چاودنه وکړه. د دغه وزارت په وینا، نوموړي هڅه کوله چې دا مواد د پولیسو خوا ته وغورځوي، خو پخپله پر هغه وچاودل او پکې ووژل شو.

د راپورونو له مخې، پولیسو د دغو لاریونونو پر مهال اوښکې بهوونکی ګاز او ربړي مرمۍ کارولې، د پولیسو او لاریونوالو ترمنځ په نښتو کې ګڼ کسان ټپیان شوي او سلګونه نور لاریونوال د پولیسو له خوا نیول شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د بېلاروس د ټاکنو کمېسیون د اګسټ پر نهمه اوسنی ولسمشر الکساندر لوکاشینکا د دغه هېواد د ولسمشر په توګه اعلان کړ. لاریونوال وایي چې دا ټاکنې له مخکې پلان شوې وې. خو لوکاشینکا د لاریونوالو دغه ادعاوې رد کړې او دوی یې پسونه وبلل چې د ده په وینا، له بهرنیو هېوادونو څخه د ټلیفون له لارې اداره کېږي.

نوموړي ویلي چې له دې کسانو سره له پولنډ، بریټانیا او چک جمهوریت څخه ټلیفوني اړیکې نیول شوې دي.

### سعودي عربستان: له دې وروسته پاکستان ته نه تېل او نه هم پور ورکوو

د راپورونو له مخې، سعودي عربستان له پاکستان سره خپلې مرستې درولې دي. د راپورونو پر اساس، د سعودي عربستان حکومت پرېکړه کړې ده چې له دې وروسته به پاکستان ته نه تېل او نه هم پور ورکوي. راپورونه وایي چې د کشمیر د مسئلې پر سر د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان د غونډې نه رابللو له کبله د دواړو هېوادونو اړیکې ترینګلې شوې دي.

دا په داسې حال کې ده چې سعودي تېره اونۍ له پاکستان څخه د هغو ٦.۲ میلیارد ډالرو پور له ډلې یو میلیارد ډالر هم بېرته واخیستل چې څه موده وړاندې یې دغه هېواد ته ورکړي و. د یادونې ده چې د سعودي ولیعهد محمد بن سلمان په ۲۰۱۸ میلادي کال کې د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره د یاد پور هوکړه لاسلیک کړې وه، خو په دې وروستیو کې د دواړو هېوادونو د اړیکو له ترینګلتیا وروسته پاکستان ته دغه پور په بشپړه توګه نه دی ورکړل شوی. په ورته وخت کې، پاکستان د سعودي عربستان د دې پرېکړې په غبرګون کې څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې یې څو ځلې ټینګار کړی و چې د کشمیر د مسئلې په تړاو دې د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان غونډه راوبلل شي.

### تاجران: نبود سهولت ها و اخاذی های غیرقانونی در «شیرخان بندر» مانع فعالیت برخی تاجران گردیده است



شماری زیادی از تاجران کندزی به دلیل نبود سهولت ها درشیرخان بندرکندز فعالیت های شان‌را متوقف کرده و مصروف کارهای تجارتی در ولایات دیگر می باشند .

سید مجتبی هاشمی رئیس اتحادیه تاجران شیرخان بندر کندز می گوید که ناامنی، اخاذی ها و نبود سهولت‌ها از سوی گمرک سبب شده که شماری زیاد از تاجران این ولایت فعالیت های تجارتی شان‌را در این بندر متوقف و به بنادر دیگر کشور رو بیاورند .


موصوف گفته است: « قبلاً در این بندر ۱۴۵ شرکت تجارتی فعالیت داشت؛ اما درحال حاضر تنها ۵ شرکت باقی مانده است .»

وی می گوید که نبود امنیت مشکل جدی است که سبب اختطاف یک تعداد تاجران گردیده وزمینه را برای اخاذی ها فراهم کرده است که تاجران نمی توانند دراین وضعیت به فعالیت های شانرا ادامه دهند منبع افزوده است که مسؤلان ۱۵ روز فرصت دارند تا به این مشکلات تاجران توجه کنند درغیرصورت فعالیت های تجارتی دراین بندر کاملا متوقف خواهد شد . از سوی دیگر شورای ولایتی کندز از کمرنگ شدن فعالیت های تجارتی در شیر خان بندر انتقاد نموده ومسؤلان محلی بندر را به کم کاری وبی توجهی متهم میکند. گل محمد رجب زاده رییس اتاق تجارت کندز می پذیرد که تاجران درشیرخان بندر با مشکلات جدی مواجه اند .

وی می گوید، لازم است درمورد فعالیت های تجار دراین بندر توجه شود اگر توجه نگردد ، چند تن تجار باقی ماند نیز این بندر رها خواهند کرد.

## ژوند


### د سېلفي مینه‌والو لپاره غوره ځیرک موبایل



ویوو نومې چینایي کمپنۍ خپل اېس۷ نومی ځیرک موبایل معرفي کړ، چې له ۵جي ټکنالوژۍ څخه ملاتړ کوي او د سېلفي لپاره پیاوړې کامره لري. اېس۷ نومي دغه ځیرک موبایل کې د سنپ ډراګن ۷٦۵جي ډوله پروسېسر، ۸–۱۲ ګیګابایټ رم او ۱۲۸ –۲۵٦ ګیګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا ورکړل شوې ده. دغه ځیرک موبایل میموري کارت نه خوري.

په دې ځیرک موبایل کې همدا راز ۴۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ کارول شوې، چې له ۳۳ واټ چټک چارج څخه ملاتړ کوي. مخکینۍ برخه کې سېلفي لپاره دوه کامرې لري چې ۴۴ مېګاپکسله اصلي او ۸ مېګاپکسله الټرا وایډ انګل کامرې پکې شامل دي. دغه ځیرک موبایل د اګست په ۸مه خرځلاو ته وړاندې شو. د ۸ ګیګابایټ رم او ۱۲۸ ګیګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا لرونکې بڼې بیه ۲۸۰۰ یوان (تقریباً ۳۱۰۰۰ افغانۍ) او د ۱۲ ګیګابایټ رم او ۲۵٦ ګیګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا لرونکې بڼې بیه ۳۱۰۰ یوان (تقریباً ۳۵۰۰۰ افغانۍ) ټاکل شوې ده

### د شتمن کېدو لپاره خطر قبلول اړین دي



د شتمنو خلکو یو راز دا دی چې خطر قبلوي. دوی پر هغه څه چې پانګونه کوي، ورسره یو ځای خطر هم قبلوي، ځکه ګټه په تاوان کیږي. څېړنو ښودلې ده هغه کسان چې نه شتمن کیږي، شپږ سلنه مالي ربسک قبلوي، خو برعکس هغه کسان چې نن د شتمنۍ خاوندان دي، له ۵۰ سلنې یې زیات ربسک قبول کړی دی. هغه کسان چې خپلې شتمنۍ نه شي ساتلی او یا هم نه شي شتمن کېدای، دوی ۷۸ سلنه خپل ژوند پر هغو ټلوېزیوني خپرونو پورې تړلی دی، چې د نورو خلکو خصوصي ژوند پکې څېړل کیږي او یا هم هسې بوختوونکي سریالونه پکې خپرېږي. خو په ټوله کې شتمن خلک خپل وخت پر دې ډول پروګرامونو نه تېروي، کېدای شي په ټوله ورځ کې یو ساعت ټلوېزیون وګوري. دغه ډول د انټرنېټ په برخه کې هم. دوی په ټوله ورځ کې یو ځل مجازي نړۍ ته سر ورښکاره کوي، خو که یې کار پر انټرنېټ پورې تړلی وي، بیا یې دا د کار یوه برخه بلل کېدای شي.

ماستر ډبټ کارت

د عزیزي بانک ماستر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.



1515 www.azizibank.af

عزیزي بانک
Azizi Bank